# متاثرین او زمونږ ذمه واري

شګفته ملک

سوات، بونېر، دير او ملاکنډ کښې د روان پوځي اپرېشن له وجې د دغه علاقو نه تر اوسه د دېرش لکو نه زيات خلق بې کوره شوي دي چې د دې وطن د بقا دپاره ئې نۀ صرف خپل ډک کورونه او علاقې پرېښې دي بلکې ډېرو پکښې خپل ډېر نازولي هم د همېشه دپاره بائيللي دي او اوس په ډېر تکليف او بې وسۍ د خپل کلي کوره بهر په وخت تېرولو مجبور دي. يقيناً دا د دې وطن دپاره د دغه خلقو داسې قرباني ده چې مثال ئې نۀ پېدا کېږي.

د اې اين پي د زنانۀ څانګه د اول وخت نه د سوات د مسئلې په حواله خپل فعال رول لوبوي. په دغه حواله دوي وخت په وخت پرېس کانفرنسونه، سيمينارونه، احتجاجونه او نورې هلې ځلې کړې دي.



اوس چې د ملاکنډ ډويژن نه په لکونو خلق بې کوره شو نو هم د اې اين پي د ښځو څانګې د هغوي په مرسته ملګرتيا کښې د چا نه وروستو نۀ وۀ.

مونږ په خپل سر او خپلو ذرايعو د سوات د خوئندو ورونړو دپاره د دوه ټرکه سامان بندوبست وکړو، آئنده به هم دا سلسله جاري وي، په دغه دوو ټرکونو کښې د کور د ضرورت ټول سامان ؤ چې پکښې د بجلۍ پکي، د ابو کولرې (چې سېد عاقل شاه رالېږلي وو) د دې نه علاوه دزنانۀ او ماشومانو دپاره جوړې کړې شوې جامې، چټايانې او د اخلي پخلي لوښي شامل وو.

چونکې کېمپونو ته د امدادي ادارو توجه ډېره ده نو مونږ سکولونو ته لاړو چې هلته د دغه ادارو توجه نسبتاً کمه ده. مونږ د بکټ ګنج مردان په سکولونو کښې خلقو ته دغه سامان ورسوو او څۀ





چې پاتې شو هغه مو مردان شېخ شهزاد او شېخ ياسين کېمپ کښې د اې اين پي کېمپ ته حواله کړو چې هغوي ئې په خپله طريقه متاثرينو ته حواله کړي.

متاثرينو ته د خوراکي څيزونو سره سره د بسترو او علاج معالجې ډېر ضرورت دے. زمونږ ملګري ډاکټرانو کېمپونه لګولي دي. ما د زنانۀ دپاره اې ډي هيلتهـ سره خبره کړې چې د دوي دپاره ځانله مېډيکل کېمپونه ولګوي او د ليډي هيلتهـ ورکرز او ليډي ډاکټرانو بندوبست وکړے شي.

کېمپونو کښې د ځنې خاندانونو سره نارينه نشته نو ښځو ته د امدادي سامان دپاره په قطار کښې ودرېدل وي. پکار ده چې د ښځو دپاره ځانله انتظام وشي. د دې خبره مونږ کړې ده. د دې سره سره دغلته د نارينه پوليس سره سره په مناسب تعداد کښې وومن پوليس هم پکار دي. مونږ سره د وومن پوليس تعداد ډېر کم دے ،په دې حواله پنجاب زمونږ مدد کولے شي. هغوي سره د وومن پوليس تعداد ډېر دے. مونږ مشرانو ته وئيلي دي چې د پنجاب حکومت سره خبره وکړي.



د امدادي سامان وړلو او تقسيمولو نه وړاندې د مختلفو کېمپونو سروې پکار ده چې چرته چرته څۀ څۀ پکار دي. دغسې به بدنظمي کمه شي او خلقو ته به د خپل خپل ضرورت سامان په سمه طريقه ورسي.

د دې نه علاوه کېمپونو کښې د اېجوکېشن هم ضرورت دے. د ماشومانو وخت ضائع کېږي، دلته د اېجوکېشن د محکمې چوټياني دي. پکار ده چې دغه استاذان نۀ صرف د رجسټرېشن په کار کښې د دوي نه مدد واخستې شي بلکې دغه استاذان په کېمپونو کښې د ماشومانو د تعليم دپاره خپله ذمه واري هم ترسره کړي.

هسې خو زمونږ پارټي او حکومت لګيا دے د متاثرينو دپاره پوره پوره کوششونه کوي، مختلفې ادارې هم خپل خپل کردار لوبوي. خو زمونږ کوششونه په خصوصي توګه د ښځو دپاره دي، د ښځو مسئلې د ټولو نه اهمې دي. پکار ده چې دوي ته خصوصي توجه ورکړې شي.

(مضمون ليکونکې د صوبائي اسمبلۍ غړې، د صوبائي حکومت د سپورټس، کلچر، ټورازم، ارکيالوجي او يوتهـ افئيرز د سټېنډنګ کمېټۍ چئيرپرسن، سرحد اولمپکس اېسوسي ايشن او عوامي نېشنل پارټۍ پښتونخوا نائب صدره ده)